# د الله تعالی له حدودو پرته هېڅوک د لسو نه زياتې درې نه وهل کېږي

له ابو برده الأنصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چې : هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «د الله تعالی له حدودو پرته هېڅوک د لسو نه زياتې درې نه وهل کېږي».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

پېغمبر ﷺ لدې منع کړې ده چې يو څوک دې له لسو دورو څخه ډېر ووهل شي، مګر په ګناهونو کې (هغه چې شريعت پرې ټاکلې سزا وي) او مراد ترې هغه نه دي چې شريعت ورته د دورو ټاکلی حد، وهل، او يا ځانګړې سزا ښودلې وي، موخه دا ده چې په تأديبي سزا کې بايد څوک له لسو دورو زيات و نه وهل شي لکه: د خپلې مېرمنې او يا زوی وهل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2987

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee